مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خوشحال آصفي ۲۰۱۹/۰۹/۰۲

# کونړ ژاړي، خو حکومت غوږ نه پرې ګروي

کلونه کېږي، چې پاکستاني ځواکونه زموږ پر خاوره او دردېدلي ولس توغندي وروي، چې موخه يې نه خلکو ته معلومه ده او نه حکومت يې د مسوول په صفت سمه پوښتنه وکړه.
ستاسي به په ياد وي،چې يو ځل پخواني دفاع وزير بسم الله محمدي ويلي و"کرزي صيب د بالمثل عمل امر ورته کړی، خو دوی مني، چې ناغېړي يې کړې ده" ، خو له بده مرغه دا لړی لا هم روانه ده او د ملي يووالي په څه ناڅه پنځه کلنه دوره کې د پاکستاني ړندو توغنديو باران په درز کې روان دی او دکنړ ولايت پر سرحدي ولسواليو يې زرګونه توغندي ورولي، چې له کبله يې په سلګونو ملکي وګړيو ته مرګ ژوبله اوښتي او سلګونه کورنۍ د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.
دا لومړی ځل نه دی، چې پاکستاني ځواکونه پرکنړ ولايت توغنديز بريدونه کوي او يوازې کنړ ولايت هم ندی، چې پاکستان په کې د افغانستان په خاوره تيری کوي، بلکې له دې وړاندې په وار وار د ننګرهار په ګوشتي کې، د پکتيکا په انګور اډه کې، د هلمند په بهرامچه کې، د خوست په غلام خان کې او د کندهار په سپين بولدک کې د افغانستان خاورې ته په لسګونو کيلومتر وړاندې راغلي او ان دا، چې په افغان خاوره يې پوځي تاسيسات هم جوړ کړي دي، خو له بده مرغه افغان حکومتونو يې پر وړاندې چوپتيا غوره کړې ده. په ځانګړې توګه د اشرف غني او عبدالله په مشرۍ حکومت يې پر وړاندې د پټې خولې سياست غوره کړی دی. په دې ليکنه کې يوازې په کنړ ولايت کې د پاکستان په تيري او تر شا يې په پرتو موخو، عواملو، د اوسني افغان حکومت پر چوپتيا او دکنړ ولايت پر ستراتيژيک اهميت خبرې کوو.

### د کونړ ستراتيژيک او اقتصادي اهميت او د نا امنه کولو تر شا يې د پاکستان موخه:

ياد ولايت د پاکستان تر ولکې لاندې پېښونخوا سره کابو ۱۸۰ کيلومتره ګډه پوله لري. لکه څرنګه چې د کونړسوېل ته ننګرهار ولايت او لوېديځ ته يې لغمان ولايت موقعيت لري، نو په آسانۍ سره ترې ننګرهار او لغمان ولايتونه کنټرول کيدلای شي، چې د همدې ستراتيژيک اهميت له مخې پاکستان غواړي ياد ولايت نا امنه او خلک يې پر حکومت بې باوره کړي، څو اړ شي د پاکستان شناختي کارډونه واخلي.
که د حکومت د چوپتيا سياست په پايله کې خدای مکړه د پاکستان لاس ته پريوځي، نو معنا يې دا ده، چې ننګرهار او لغمان به په ډېرې آسانۍ د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي. کونړ ولايت له پوځي اړخه هم ډېر ستراتيژيک اهميت لري او پاکستان غواړي چې په هر قيمت او هر لاره وي د کونړخلک وځپي، څو خپلې شومې موخې ته ورسيږي.
بله او اصلي موخه يې دا هم کېدلی شي، چې دغه سيمه له خلکو څخه تشه او خپل "جاسوسان او ترهګر " پکې ورروزي.
همدارنګ کونړ ولايت د هېواد په کچه اصلي د نښترو (چهارتراش) بې سارې ځنګلونه لري، پر دې سربېره د ښون (زيتون) ، څېړی او د سون لرګيو نور ډول ډول ځنګلونه لري.
په کونړ کې پر قدرتي ځنګلونو سربېره د پيچ درې ولسوالی په مانوګي او چپه دره کې د قيمتي ډبرو (بيروج) کانونه ډېر زيات دي، همداشان په خاص کونړ او سرکانو ولسواليو کې د (کروومايټ)کانونه دي، چې په قاچاقي توګه کيندل کيږي او پاکستان ته قاچاق کيږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

بل پلو د کونړ د سیند اوبه دا مهال په وړیا توګه پاکستان ته ځي، خو که پر دې سیند بند جوړ شي، نو ډېرې اوبه به يې په افغانستان کې ولګول شي. دلته هم پاکستان د کونړ ولایت د ناامنه کولو په موخه پر دې ولایت توغندیز بریدونه کوي، څو د کونړ د سیند اوبه پرې بندې نشي او یاد هیواد ته د قاچاق کېدونکیو قیمتي ډبرو مخنیوی ونشي.

**پایله:**

له تېرو څو کلونو راهیسې په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو په ځانګړي توګه د افغانستان په ځمکنۍ بشپړتیا د تیري پر وړاندې افغان دولت وړ او مناسب غبرګون ندی ښودلی، چې پایله یې د پاکستان زړورتیا ده.
د پاکستان پر وړاندې د افغان حکومتونو د چوپتیا ښه بېلګه د اشرف غني او عبدالله شریک حکومت اوسنی دریځ دی، چې تر اوسه یې د پاکستان له لوري په افغان خاوره هر رنګه تیری یوازې غندلی دی او بس او تاسي به لیدلي وي، چې ان د کمپاین لپاره هم یوازې پر تیلیفوني خبرو اتکا وشوه او خلاص.

**پوښتنه:**

دا، چې ولې یې تر اوسه وړ او جدي اقدام ندی کړی او کوم مجبوریتونه دي، چې نشي کولی له خپلو خلکو دفاع وکړي؟ بېلابېلې پوښتنې زېږوي.
یوه پوښتنه دا ده، چې آیا د حکومت مشرانو د افغانستان د خدمت هوډ او قسم ندی کړی؟
څوک یې غبرګون ته نه پرېږدي؟
آیا له غبرګونه ستړي شوي دي؟
آیا ډیپلوماسي یې ناکامه وه، چې نشي کولای ملګرو ملتونو ته پر پاکستان د فشار راوړلو قناعت ورکړي؟
که د خلکو خادمان دي نو بیا ولې د خلکو وینه او ژوند ورته اهمیت نه لري؟
او لسګونه داسي نورې پوښتنې...
حل لاره: داسي ښکاري، چې د حکومت تېرې چوپتیا ته په کتو ولس باید لاس په کار شي او د حل لاره د حکومت په لاس کې نه، بلکې د ولس په لاس کې ده.
نو په کار ده، چې خلک را پاڅیږي، خپل حکومت اصلاح کړي او د خپل ژوند د خوندیتابه لپاره سره یو موټی شي، له خپلې خاورې دفاع وکړي او هماغسې، چې د نورو زبرځواکونو خوله یې په سوک سمه کړې ده؛ د تور پنجابي خوله په سوک ور سمه کړي، څو پوه شي:

«لا تـر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چا، چې ما سره وهلی سر په سنګ دی»

پاکستان عملاً پر افغانستان یرغل کړی او کوي یې؛ او له خپلې خاورې دفاع که حکومت نشي کولی او په کمپاینونو کې بوخت دی، نو د ټولو دنده ده، چې متې را ونغاړي او د هوساینې غړ پورته کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ